ولي الله ملکزی

۲۰۲۵/۰۲/۲۴

# هَمدا، باور دی

یوه پتمنه او ښاستوکې پیغله په کوم ځنه ور او ګلالي ځوان باندې زړه بایلي، خو پلار او ورونه یې د خپلې خوښې ځوان ته په نکاح نه ورکوي. دا بېچاره ګی درې پنجشنبې، هرمازیګر لوڅې پښې یو مشهور زیارت ته ځي او د منجاور لپاره په پلو پورې ترلې نذرانه د هغه په کچکول کې اچوي. ورپسې د دغه نازولي بابا د قبر په څنګ کې د کِیکر او غَز د ونو او ګرد چاپېره کټارو پورې د خپل تیکري ځو تارونه غوټه کوي، ګوندې د دلبر او دلبرۍ مراد یې پوره شي؛ همدا باور دی.

د یوې مېرمنې د واده لس کاله پوره کیږي ولې د طبیعي جوړښت له مخې شنده ده؛ یا یې د مېړه سپرم د تولید قابلیت نه لري. خوارکۍ د ولادي نسائي نوموتو متخصصینو ته ورځي او په خپل علاج باندې بلا پیسې مصرفوي، خو لاهم بې برخې او مایوسه ده. بیا څوک مشوره ورکوي چې فلاني تعویذ نویس او دمګري ته لاړه شي، الله مهربانه دی غېږ به دې ډکه شي. له همدې اَسرې سره، د کوم مُرشِد دربار یا خانقاه ته ورځي، هغه ورته تعویذ لیکي او دا یې په درې رنګونو کې رانغاړي. له ښې متې څخه یې تړي او ورسره په ختین کندوري یا مسین جام کې هغه څښت هم غوپه کوي چې ښایي له برکته به یې د خپل ماشوم ادې شي! همدا باور دی.

کله چې په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰م کلونو کې د کرونا واېرس خپل اوج ته ورسېد نو د نړۍ په لر او بر کې د کلیو او ښاروالیو کاریګر د قبرونو په کیندلو او د تابوتونو په شمارلو سترې شول. سعودي عربستان له بهر څخه حاجیان بېخي محدود کړل او د مکې مکرمې او مدینې منورې په حرمېنو کې یې لمونځ کوونکو ته امر وکړ چې په صفونو کې دې هر کس یو یو ګز فاصله مراعت کړي. په همدغسې زبېښلي او خوړین موسم کې، یوې وېډیو کې لیدل کیږي یو نامي پیر ته دوه درجنه خلک په کتار کې ولاړ دي. هغه بزرګوار یوه یوه خرما خولې ته ننباسي، پخپلو مبارکو لاړو یې ککړوي او بیا یې د شِفا په نیت مُریدانو ته ورکوي. همدا شان، د اوبو سرلوڅې بوتلونه او ګیلاسونه هم ورله دموي او دوئ یې بې خاره څښې، همدا باور دی.

په بلې وېډیو کې د توربې پګړۍ یو آخوند په منبر ناست دی او ښه په قلقلې سره وایي: « ذات اقدس الهي هر شب جمعه از عرش مُعلا به کربلاء مي آید و هفت بار از قبر مطهر امام حسین علیه السلام طواف مي نماید» ناست خلک یې د صلوات بر محمد و آل محمد په نعرو سره بدرګه کوي او دغه د نه منلو خبره ورسره بې چون و چرا مني، همدا باور دی.

په درېمې ویډیو کې یو کس په اردو ژبې وایي: د جمعې په شپه دا ټول کائنات د غوث پاک سرکار (شیخ عبدالقادر جیلاني) له مزار څخه چورلیږي او د قدسیت انوار شیندل کیږي؟ همدا باور دی.

د بدر، احد او خندق په غزواتو / جنګونو کې حضرت پیغمبر (ص) او د هغه ملګري (رض) له سختې لوږې سره مخ وو، خو د سیرت النبي او اسلامي تاریخ هیڅ معتبر کتاب نه دي لیکلي چې دوئ ته بې پوستکي اوښان را استول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شویدي. مګر یو مشهور دیني عالم، د خپلي داعیي د حقانیت په خاطر وایي: څو کاله وړاندې هغوئ یوځل غیبي آواز واورېد چي فلانۍ ونې ته ورشئ هلته بې پوستکو پسونه راځوړند دي. خواوشا ټول ناست خلک ورته ژاړي او د ملاتړ په عنوان ورته سرونه خوځوي؛ همدا باور دی.

که یو څوک مورزادي نابینا او په سترګو معذور وي او پوښتنه تري وشي چي سکاره څه ډول رنګ لري، نو دواره به ووایي چي تور. که وپوښتل شي چي د واورې رنګ به څه خېل وي؟ نو یقینا به ووایي چي سپین. ځکه هغه تلقین شوی او دغو نالیدلو دوو رنګونو یې د زړه په تاخچو او د ذهن په حجرو کي ځای نیولی دی، همدا باور دی. یو تکړه بت تراش پخپل څټک اول یوه تیره وتوږي؛ بیا د انسان یا کوم حیوان په بڼې ورڅخه مجسمه جوړه کړي. بیا یې یو ځانګړي ځای او مَعبَد ته یوسي، هلته ورته د تعظیم په پار سر ښکته کړي؛ همدا باور دی.

له دې پورتنیو لنډو بیلګو څخه جوتیږي باور یو فکري او عقیدوي بهیر دی چي د محکمې ثبوت ته اړتیا نه لري. باور یو اغزن او د سیوري او لمر ترمنځ سفر دی چي ډیر سواد، لوړې شهادتنامې او اوږدې تجربې ته اړتیا نه لري. د فلسفي تعریف له مخې: باور هغه لید لوری دی چي د سم او ناسم په اړه یې څوک څېړنه نه کوي او په خپل هوډ باندې کلک دریدل یې پیلامه بلل کیږي. همدا شان د ښه احساس درلودل مهارت دی خو د اعتماد او باور معنا نه لري، نو په هرڅا او هرڅه کي شک لرل، د انسان باور په سیند لاهو کوي او بې اعتباره سړی یا میرمن تر هرچا ډیر ځوریږي. په عین حال کي، د الله تعالی په ذات کلک ایمان لرل د دغه مزل د لنډو ولو ترټولو غوره توښه ده. مثبت فکر او باور انسان ته شخصیت، وقار او انرژي ورکوي؛ خو د منفي باور انسانان تل د کار له پیله وړاندې، د یوعذر په لټه کي وي. نو څومره چي موږ په خپل چاپیریال، اداري او ټولني کي اعتمادي ملګري او باوري فضا ولرو، هومره به مو د فکر پلویان ډیر او د نظر ملاتړي زیات وي.

د یقین کلمه ۲۸ ځلي په قرانکریم کي راغلي چي د باور، عقیدی، هڅې، درنښت او بصیرت په معنا ده، البته دوه کرته د مرګ په مفهوم هم راغلي ده. اوس پوښتنه دا ده چي موږ د باورمندو خلکو په صفت د سختۍ، بې وسی او مایوسی په شیبو کي وفات شوو بابا ګانو، پیرانو، اقطابو او زیارتونو ته غږ وکړو چي سلګونه کلونه وړاندې خپل خالق ته ورغلي، هډوکي یې هم خاوري شوي او زموږ دعاوو ته اړ دي؟ که هغه زورور، ژوندي او مطلق واکمن ته فریاد او چیغه وکړو چي پخپل سپیڅلي کلام کي فرمایي: ( وَنَحْنُ أَقْرَبُ إليه مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ - موږ هغه ته د مری له رګ څخه هم نژدې یو)؟

الله مې دې زاړه ایمان ته خیر کړي!

---

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نورې لیکني او څیرني د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوتیوب په چینل کي ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



[د لیکوال نورې لیکني په دې لینک کي ولولئ]()


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ